ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

# د ولي خان په نثر کښې د طنز ومزاح تجزياتي مطالعه

# An analytical study of humor and satire in Khan Abdul wali khan’ prose

• **Gul Munir**[1]

ABSTRACT

*The study critically analyzes Wali Khan’s humor and satire in his prose. No significant scholarly research is available in the area except few passing references. The study, while taking into account the primary sources of his prose, has found that Khan was a great and prolific writer of prose and has also made use of humor and satire in his writing. The study argues that his contribution to prose, humor and satire is outstanding but has not been acknowledged properly. His prose output in his books, essays, letters and other writings is rich with humor and satire.*

طنز ومزاح د ليک او تحرير د اسلوب خواږه دي، . څنګه چې انسانان په امروزه ژوند کښې د يو بل نه مختلف د خبرو انداز لري، دا رنګ په ليک کښې هم وي. څنګه چې ځيني انسانان په ټوقو ټوقو کښې د کار خبرې کوي، دغه رنګ په تحرير کښې ځيني ليکوالان د ظرافت په رنګ کښې رنګ دي. او د لوستونکيو د دلچسپۍ له پاره د طنز ومزاح لارې خپلوي. څنګه چې په امروزه ژوند کښې درنې، صقيلې او ډېرې سپورې خبرې سړے د بوريت سره مخ کوي، دغه رنګ په ليک کښې هم وي، انسان فطرتي توګه په خوند خوند , خندا خندا او مسکا کښې د اسانې نه ګرانې ته د لار ايستو په حق کښې دے، که چرته د ظرافت دغه عنصر د دۀ په جبلت کښې نۀ وے اخښلے شوے نو زما په خيال د ارتقاء دا دومره سفر به ئې ډېر په ګرانه ترسره کوو، دا شان په تحرير کښې د نړۍ په کچ هم د طنز ومزاح اوږد سفر د انساني ژوند سره څنګ په څنګ ترسره شوے دے.

طنز ومزاح يوه ادبي اصطلاح ګرځېدلې ده. اکثر خو وئيلے کيږي مرکب ولې طنز ځانله او مزاح ځانله معنيٰ او ميدان لري خو دا جدا جدا مېدانونه چې کوم څيز سره يو کوي هغه د ظرافت او خندا ملکه ده. د طنز لغوي معنيٰ په عربۍ کښې په چا باندې اشاره کنايه کښې پېغور او طعنې کولو ته وائي. په انګليسۍ کښې ورته (SATIRE) وائي. چې اصطلاحي معنيٰ ئې داسې ليک کول چې په مدد سره ئې ليکوال د ټوقو په پرده کښې په يو څيز يا موضوع باندې تنقيد کوي. يعنې طنز نګار د ټولنې د ناهمواريو نه ځان بالا ګڼي. په دغه نا همواريو باندې په خندا خندا کښې داسې ټکونه وکړي چې سړي له ورپورې خندا ورشي. وئيلے شي چې په طنز کښې د نفرت رنګ غالب وي او په مزاح کښې د محبت رويه ښکاره وي[1]. طنز نګار خوږه پسته کښې د ناهمواريو علاج په ترخو دوايانو سره داسې کوي چې له پاسه ئې پرې خواږه مېنلي وي. ولې چې حلق ته ئې

---

[1] **Assistant professor , Govt: Degree college Thana Malakand**

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

کړي نو خپل تریخ اثر شروع کړي. د مزاح په نسبت د طنز تاثیر تر ډېره وخته پورې وي.[2] دا شان مزاح د عربۍ ژبې لفظ دے چې معنيٰ ئې خوش طبعي ، مسکا او ظرافت دے.[3] چې په انګرېزۍ کښې ورته "هیومر" وائي. خو په ادبي اصطلاح کښې دې ته وائي چې لیکوال په لیک کښې ځان د ټولنې د ناهمواریو سره موافق او همدرد وګڼي. او بیا وربانديې داسې ټوقه وکړي چې لوستونکي بې اختیاره په خندا کړي. وئیلے شي چې طنز نګار لکه د یو قاضي تماشګیر په لوړ ځاے ولاړ وي او د برترۍ د احساس لاندې په نا همواریو باندې د طنز د نشتر غشي وروي. او مزاح نګار د دغه ناهمواریو سره ځان موافق وګڼي. د ټولنې سره لکه د سوېې زغل کوي . ولې بل طرف ته طنز نګار د ښکاري سپو سره ښنګ په ښنګ روان وي.[4]

د پښتو ژبې او ادب په ارتقائي سفر کښې طنز ومزاح هم خپل سفر جاري ساتلے دے، په نظم او نثر کښې ئې دومره څه شته چې خپله حاضري ئې یقیني کړې ده. زمونږ د مقالې اصل هدف د جدید دور لیکوال ولي خان په نثر کښې طنز ومزاح څېړنه کول دي. لکه څنګه چې په سر کښې ووئیلے شو چې طنز ومزاح مرکب هم وئیلے شي، د دواړو تعلق د خندا او ظرافت د حس سره دے. طنز ومزاح په لیک کښې ترسره کول د هر چا د وس خبره نۀ ده، پوره ادبي ریاضت او فطري یا جبلي طبع غواړي. ولي خان د یو لیکوال او ادیب سره سره د عملي سیاست د میدان غړے پاتې شوے دے. د هغۀ هر تقریر او خطاب چې څنګه د طنز ومزاح په خوږو رنګ وۀ ، دغسې د لیک رنګ یې هم د ظرافت نه ډک دے، ولي خان چې کله په جېل کښې زنداني وۀ په یو خط کښې د هغۀ خپل حال او احوال ترڅنګه جغرافیه دومره په ادبي او هنري مهارت سره په طنز ومزاح کښې بیان کړې ده چې د جېل سختنه او زنداني کېفیت به درنه نۀ یواځې هېر کړي بلکې بې اختیاره به دې وخندوي.

"څنګه چې ئې نوم نه معلومیږي. دا مچ ښکاري چې د یو مچ کلے وۀ. او هغه اباد کړے وي. ولې چې دلته داسې قسمه مچان شته چې بې شکه چې د مچ څه تعریف کېدے شي ټول خویونه په دوي کښې موجود دي، د پښو د طرفه خو داسې ستغ دي چې ته به وائې جوړې په ځپلو ئې مېخونه وهلي وي. که سیلۍ وي او که ببوزے وهي خو الوالعزمي دومره بویه چې مجال شته چې دوي پاڅي. د استاذۍ او مهارت قیصې ئې ډېرې دي، خو یوه به درته ولیکم هسې خو په پېنځو، لستوڼو، ګرېوانونو، غوږونو ، سترګو کښې دوي ډېر په بې تکلفۍ سره ننوځي. لیکن یو مردِ میدان په کښې هغه ورځ منفعت خان په پوزه یا چا راپار کړے او چې هغۀ په ځان پوهېدو نو بیا ئې په سپېږمه کښې بره ختلے وۀ. ډېر اخ اوخ، غړپ غړوپ وو، ډېر غړبار او ګړبار اوشو په دې الغاؤ تلغاؤ کښې منفعت خان ته د نمرود قیصه رایاده شوه او دا هم ورسره وېره فکر شوه چې خدایه د پښتو ملک دے مړ خو شوې خو بدل دې هم په مچ ورپورې شو . خبر خو ډېر زور پکړ وشو، منفعت خان د سرکس برابر اوازونه وښکل، پوزه ئې په سونیولو سونیولو پکوړه کړله. د سترګو نه ئې اوښکې رواني شوې نو ایله چرته

خدا ے خبر کړو۔ هغه مچ راووت او هغه خدا ے د نمرود د مرګ نه او مونږ د بدل د اخستو د پېټي نه خلاص شو"۔[5]

خان عبدالولي خان ژوند د ډېرو غورزو پرزو نه ډک وۀ، مطلب ډېر مصروفه سياسي او سماجي ژوند مالک وۀ۔ هغه ته ايله په جېل کښې د ليکلو موقع په لاس ورغلې ده زيات تر کتابونه ئې هم د جېل د وختو ليکلي او ترتيب کړي دي۔[6] حالانکې جېل ځومره د اذيت ناک کېفيتونو غماز وي خو دا ولي خان دے چې د جېل تورو تمبو شاته خپل همت جرات ځوان ساتي۔ او د ليک لوست سره خپله رشته نۀ يواځې پالي بلکې د جېل نه خپلو ملګرو دوستانو ته د مطالعې او علم پوهې خوځښت او حرارت ورکوي۔ د جهانزېب نياز په نوم اکثر خطونه هم د دې خبرې غمازي کوي چې هغه د علم او پوهې سره ډېر د ديانت سره شوق او ذوق لرلو۔ د حبسياتو درد کښې د ژوند لار ويستل د لويو او جېنئسو خلقو کار وي۔ ولي خان نۀ يواځې په هره تياره کښې د رڼا لار اوباسي بلکې داسې تحريري ټوټې رقم کړي چې ځان سره ټول لوستونکي هم وخندوي۔ زما په خيال که ولي خان چرته د عملي ميدان سياست نۀ کولے، هغه به نۀ يواځې د پښتو ادب يو لوے تخليقي او تحقيقي ليکوال وۀ، بلکې د طنز ومزاح په مېدان کښې به ئې هم ډېرو کمو خلکو سيالي کولے شوه. بحر حال د حالاتو تقاضه وه چې د ولي خان دپاره دومره ګڼ اړخيز کردار لوبول وو ۔ د ليک په ميدان کښې د طنز ومزاح په لړ کښې د هغه نامه هم په يادولو ارزي۔ دغه شان لندن نه د "رهبر" رسالې مدير ولي محمد طوفان ته چې يو خط کښې د انګرېزۍ ژبې په حقله د خلقو عام خيال نه مختلف ځۀ چې ورسره اوشو د ولي خان په اند چې مونږ انګرېزي يو بين الاقوامي ژبه ګڼله خو چې کله په قاهره کښې خلق خپلې ژبې نه علاوه په بله ژبه نۀ پوهېږي نو ولي خان ته احساس کېږي چې يواځې په انګليسي او عربۍ هم نۀ پوره کېږي۔ د ولي خان سره ځه شوي دي، راځئ چې د هغه د خپل قلم نه ئې په خپله واورو۔

> " اوله ټوقه په قاهره کښې پېښه شوه چې هلته عربي او دلته خو ماله د قرآن عربي راتله په هغې هغوي نۀ پوهېدل، يره چې ما هلته په سيټهي عبدالغفور صاحب پسې کوم ارمانونه کړي دي، ما وې ارمان چې زۀ داسې خبر وے نو ما به ترېنه يو څو ټکي نور هم زده کړي وو۔ او که په دغه سودا کښې جومات ته ئې رسولے نو هم خير وۀ، د هغه يو ټکے ماته ياد وۀ چې پيو ته ۔ لبن۔ وائي۔ او يره چې هغې راله کوم کار ايستلے دے او لکه د زړې زمانې د دبو د هغه وېښته ځومره په سخته کښې په کار راغلے دے۔ چې قاهره کښې راله چاے راوړه ورسره نيمبو وو۔ پي ورسره نۀ وو، ما ځه ډېره خواري وکړه غوا مې جوړه کړله هغه سرې ته او بيا مې اولوشله خو زما په برخه ځه قولو بولو غونډې رسېدلې وو په هيڅ پوهه نۀ شو چې سيټهي صاحب پسې

حرف و سخن
HARF-O-SUKHAN
Urdu Research Journal of PAKISTAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

ارمان راغے او سیټھي صاحب سره سم "لَبن" ټکے راياد شو او سرې غر لګول. او دا دے چې پې ئي راوړل او بس تش د لاسونو اشارې وې لکه د چاړاګانو او لا خلق ايټلي والو هسې وي، هغوي خو هسې هم په لاسونو خبرې کوي او چې لا داسې زمونږ غوندې بې زبانه پرې پېښ شي نو بيا خو بس تيار ګډېدل وي"[7] .

ولي خان د با هنره طنز نګار او مزاح نګار خوبيو نه خبر وۀ لکه څنګه چې مزاح کول د هر چا د وس خبره نۀ ده، د پوره ادبي او فني رياضت نه پس ليکوال په ښۀ طنز ومزاح کښې کاميابيږي . د کامياب طنز ومزاح کوونکي خوبۍ دا وي چې هغه يواځې دل ازاري نۀ وي او نۀ تش ټک او تنقيد کولو ته طنز وائي، بلکې په داسې هنر او خندا کښې د همدردۍ د جذبې سره سره خپل غرض ترسره کړي، چې د طنز نخښنه کوونکے ورسره هم نۀ يواځې وخاندي بلکې خبره پرې بوج هم نۀ شي . [8] ولي خان ځان هم د طنز ومزاح نه ماورا نۀ ګڼي، ځينو ځايونو کښې ئي په ځان طنز ومزاح هم کړې ده، چې د لوے زړۀ خاوند ورته وئيلے شو . په بل پورې ټوقه هر سړے کولے شي خو په ځان طنز ډېر لوے زړۀ غواړي . او دغه لوے والے ولي خان په خپل يو مثال کښې عملي وښودلو، ولي خان په عملي ژوند کښې هم د طنز ومزاح پوره ماهر وۀ ، هغه يو داسې معتدل او متوازن شخصيت خاوند وۀ چې د ژوند ډېرو رنګونو کښې اخښلے شوے وۀ چې يو رنګ په کښې د طنز ومزاح هم وۀ . څکه خو ډاکټر راج ولي شاه ختک د ولي خان په دې حقله ليکي:

" د هغوي په ذات کښې لوے لوے کمالات وو، هغۀ د يو زور سياسي بصيرت مدبر وۀ، هغه يو شعله بيان مقرر هم وۀ، . د هغوي تقريرونه به د موسيقۍ په شان خواږه وو، د ظرافت حِس ئې ډېر زبردست وۀ . "[9]

د خدائي خدمتګار تحريک اکثره ليکوال به يا په عملي ميدان کښې د اولس سره اوږه په اوږه سياسي او سماجي خدمت په جريان کښې وو . او يا به په جېلونو کښې ، دغه عمل ولي خان سره هم شوے دے . خو لکه د نورو خدائي خدمتګارو د ولي خان دا احساس هم ډېر د کمال نه ډک دے . په دغه بندي ماحول کښې د پښتو ژبې ليک لوست سره سره ئې دطنز ومزاح برخه کردار هم دوامداره لوبولے دے . د جېل په دوران کښې چې کله په خدائي خدمتګارو ډېره سخته ورځ راښکته وي او د ولي خان ټول ملګري په جېل کښې فکر مند وو . نو ولي خان په داسې موقع د هندي سبک کلاسيکي شاعر علي خان دا شعر اووې:

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

"پـــښتن شـــو علـــي خـــان پـــه هســـې شـــوخو خونـــه شـــوړو
وژلــــــه ئـــــې زده نـــــۀ وه پـــــرې ئـــــې لـــــور ولګـــــاوۀ

نو په خدائي خدمتګارو کښې يو مشر کاکا ډېره په حېرانۍ پوښتنه وکړه، ښۀ دا شاعر ئې په لور حلال کړے وۀ، ولي خان په خندا شو وئيل ئې څۀ شعر سر اوخوړلو"[10]

ولي خان د پاکستان د وړومبي صف په سياسي منورينو کښې يو وۀ ، چې د پاکستان نه مخکښې او وروستو ئې يو شان سياسي ميدان ګرم ساتلے دے۔ ظاهره خبره ده چې سياست کښې د نظر مخالفت ضرور وي۔ خو د دليل او منطق په بنياد د اخلاقو په دائره کښې دننه ۔کوم وخت چې د ذوالفقار علي بټو حکومت وۀ نو ولي خان پارليماني اپوزيشن ليډر وۀ۔ د يو تقرير دوران کښې بټو صاحب په ولي خان سخت ټکونه وکړل او ورته ئې اووئيل چې تۀ خو يو سوشلسټ سياستدان ئې ، نو تۀ ولې زما مخالفت کوې او زياته ئې کړه چې مونږه ښۀ د وينښو سترګو او غوږونو خاوندان يو ، هر څه ډېر په عرق ريزۍ سره ګورو اورو او فيصلې کوو ۔ ، خو ته هر وخت زمونږ خلاف ئې، پکار دا وه چې تۀ زمونږ سره ملګرے شوے وې۔ نو د هغه ځواب ولي خان د طنز ومزاح په ځته کښې د مثال سره داسې تحرير کړے دے:

" باقي پاتې شوه خبره ستا د رڼو سترګو، وينښو غوږونو او روښانه مزغو او تېزې ژبې، نو د دې نه خو هيڅ څوک انکار نۀ شي کولے ولې په دې موجوده حالاتو کښې دا معطل دي ما وې تاسو ټولو به دا ليدلي وي۔ چې کله يو غټ ځاروے مردار شي او دۀ پسې سپي راشي چې په غوښو مزې وکړي او دا ډېر تجربه کار هوښيار سپے په دې پوهه وي چې دا بهر خو هسې څرمن ده، اصلي مال خو دننه دے نو هغه کوشش کوي ، تر هغې په ارام نۀ کښېني چې تر څو ئې په دې مرداره کښې ځانله دومره لاره نۀ وي ايستلې چې دے په کښې سر ورننباسي او دننه مال ته ځان ورسوي۔نو زۀ چې نن تا او ستا دې پيپل پارټۍ دې ملګرو ته ګورم نو تاسو هم لکه د هغه هوښيار سپي مردارې ته دننه ورننوتي يئ۔ او د ملک په دولت، غوړو زيړو مو خېټې ور اچولې دي، نو که فکر ورته وکړئ نو دا سپے چې دې مرداره کښې خو سر ورننه باسي نو په خېټه مورِ شي ولې چونکې د دۀ سر دننه وي نو د دۀ سترګې ، غوږونه، مازغه او ژبه هم هر څه دننه وي۔ نو بهر خو صرف د دۀ لکۍ پاتې وي او په لکۍ خو نۀ دے څۀ ويني ، نۀ څۀ اوري او نۀ پرې څه سوچ کولے شي۔ او نۀ پرې غپلے شي نو دغه ټوقه په تاسو هم شوې ده۔ "[11]

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

لکه څنګه چې وړاندې یادؤنه اوشوه چې ولي خان په بنیادي توګه د عملي سیاست غړے وؤ، دغه شان د هغه زیات تر لیکنو کښې د تاریخ، سیاست او ټولنپوهنې رنګونه زیات لیدے شي ۔[12] مطلب موضوعات ئې اکثر دغه وي خو د خپل ادبي رنګ کښې رنګ اسلوب په برکت چې څوک ئې لولي نو داسې خوند ورکوي لکه د یو خالص ادبي تخلیقي نثر چې لولي۔ هیڅ کله به دے هم د بوریت سره مخ نۀ کړي۔ د طنز ومزاح رنګ د هغه په عمومي نثري لیکونو شیندلے شوے دے۔ د هغۀ نثر کښې د فولکلوري وړو وړو قیصو تر څنګ د متل او ټپې کارؤنه نۀ یواځې ډېره ده، بلکې د موقعې او محل مناسبت سره ډېره بې ساخته او برجسته ښکاري ته به وائې چې دے فطري طور هم دې ځاے له جوړ وؤ۔ په دغه فولکلوري قیصو، متلونو او ټپو کښې هم اکثر د طنز ومزاح رنګ غالب ښکاري۔ دا د دۀ په ژبه او قلم د لاس بري دلیل دے۔ چې په غېر ادبي مضامینو کښې خوند پېدا کړي۔ چې د تخلیقي ادبي نثر ګمان پرې کیږي۔ د دې تر څنګ ولي خان خالص ادبي نثري لیکنې هم ترسره کړې دي۔ لکه تکل، رپورتاژنګاري، خاکه نګاري، مکتوب نګاري او مقدمه نګاري په هغوي کښې د ژبې خوند رنګ او تخیل پرواز په غورځنګونو دے۔ داسې نثري لیکنو کښې هر لفظ او جمله یې د خداداد هنري صلاحیت غمازي کوي ۔ ولي خان اکثریت لیکنو لوستو سره به داسې نۀ محسوسیږي چې څوک ما پوهه کوي بلکې د دنیا د ټولو نه غټه مسئله او پېچلي علمي موضوع به درته دومره په اسانه روزمره او ټوقو ټقالو کښې مازغو ته کوزه کړي چې پوهېدو سره سره به ترې خوند او مزه هم واخستے شي[13]۔

د هغۀ په ډېرو نثري لیکنو کښې د طنز ومزاح دانې خورې ورې پرتې دي۔ بې شماره نورې نمونې ئې هم شته چې د دې مقالې خېټه ئې د زغملو نۀ ده ، د هغه په خالص او نثري لیکنو کښې د طنز ومزاح نمونې خال خال شته خو دومره نۀ لکه څومره چې په سماجي نثر لیکنو او مکتوب نګارۍ کښې دي۔ په خالص ادبي نثري لیکنو کښې ئې تخلیقي نثر د تخیل خواږه لري چې اکثر د سنجیدګۍ او خفګان په کېفیت کښې لیکلے شوي دي۔ د هغه د شخصیاتو په حقله خاکه نګاري اکثر د هغوي د مرګ په موقعو کښې لیکلے شوي دي۔

خان عبدالولي خان نۀ یواځې په خپلو مخالف سماجي سیاسي خلقو باندې د طنز ومزاح غشي ورولي دي، بلکې د خپلې سیاسي پارټۍ ملګري ئې هم نۀ دي معاف کړي۔ هر کله چې د هغۀ ملګرے افضل خان لالا د بېګم نسیم نه په دې خفه وؤ چې د زنانه سره یو ځاے سیاست د مشرقي تهذیب سره نۀ ښائي او بیا پیپل پارټۍ ته لاړو نو ولي خان پرې داسې طنز کړے دے:

" ولې دے چې کله پیپل پارټۍ ته په ټکټ د غشي په نخښه نه ودرېد نو هر چا ورله په سترګو کښې ګوتې ورمنډلې ، چې تۀ خو د پارټۍ نه په دې لاړې چې په پارټۍ کښې د ښځې سره دې

ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

کار نۀ کولو، ولې چې دا ورته د پښتون روایاتو خلاف ښکارېده نو اوس خو داسې پارټۍ کښې شامل شولې چې د هغې لاندې باندې دواړه مشرانې ښځې دي۔ نو ستا خو د دوو ښځو لاندې ګزران دے"[14]

ولي خان د يو اصول پسند او حقيقت پسند سياستدان سره سره يو اصول پسند او حقيقت پسند ليکوال په توګه هم د چا نه پټ پناه نۀ دے، کومه پيمانه چې د بل دپاره ږدي، د ځان دپاره ئې هم خوښوي۔ خو زمونږ کار دلته د طنزومزاح سره دے، د خپل يو ملګري حرکات او سکنات د طنز ومزاح سره داسې وړاندې کوي:

" ستا خط مفعت خان ته رارسېدلے دے۔ ډېر افسوس دے چې هغه سره ته نۀ ئې ولې چې په کوم سر کښې تا چالو کړے وۀ، هم هغې کښې سرګردانه دے۔ او هم په هغه شپېلۍ چې ختلے دے نو لا به قلارېږي۔ تېښس زده کوي، انګرېزي ئې شروع کړې ده او يو اخري شرم ورته پاتې وۀ۔ هغه ئې هم ترسره کړو يعنې د عمرونو هغه سپينه ږيره ئې اوخرېله ، او اوس ايله چڼه چوتې شو۔ تا جوړ توقه کوله هغۀ ترې بوقه جوړه کړه"[15]۔

دا او داسې نورې ډېرې بېلګې د خان عبدالولي خان په نثرليکنو کښې شته چې د طنز ومزاح هغه غوره نمونې دي چې د ظرافت خوندونه هر لوستونکي ته ورکوي۔ د ولي خان په نثر عموماً او په دې اړه خصوصاً تر دې دمه څۀ خاص کار څه کوې چې د پاښې نيمې کار هم نۀ دے شوے۔ البته د هغه د عمومي مزاج په لړ کښې ئې يوائې يادونه باندې اکتفا شوې ده۔ په دې څېړنه کښې د هغه د نثري مثالونو نه ښۀ په جار دا خبره ثرګنده شوې ده چې ولي خان نۀ يوائې د نثر ښۀ ليکوال پاتې شوے دے، بلکې په پښتو ژبه او ادب کښې د طنز ومزاح په لړ کښې هم ژور حېثيت لري۔ پکار ده چې د هغۀ په نثري ليکنو د بېلابېلو اړخونو نه څېړنې وشي۔ په ياده موضوع پرې د ايم فل پي ايچ ډي د کچې کار پکار دے چې ۔ په دې لړکښې به نه يوائې د پښتو نثري او څېړنيزه برخه پراخه او راوسپړدلے شي ۔بلکې د خان عبدلولي خان د نثرنګارۍ حق به هم ادا کړے شي۔

HARF-O-SUKHAN
ISSN Online : 2709-4030
ISSN Print : 2709-4022
Vol.8 No.1 2024

## حوالې

---

[1]ابوالاعجاز، حفیظ صدیقی ،کشاف تنقیدی اصطلاحات، مقتدرہ قومی زبان اسلام اباد، 1985ء، ص 121
[2]انور جمال، پروفیسر، ادبی اصطلاحات، نیشنل بک فاؤنڈیشن اسلام اباد، جولائی 2022ء، ص 128
[3]سیماب، نصیب الله، د کره کتنې اصطلاحات، پښتو اکېډيمي بلوچستان کوټه، ۲۰۱۹ء، مخ ۳۲۹
[4]مجروح یوسفزے، مشتاق ، زرکانړے، امي سوشیو ایجوکېشنل سروسز، ۲۰۱۸ء، مخ ۲۱۴
[5]جهانزېب نیاز،پروفېسر، سوغات، ملت پرنټنګ پرېس لاهور، جولائي ۲۰۰۶ء، مخونه ۱۹، ۲۰
[6]خان، عبدالولي، باچاخان او خدائي خدمتګاري (ټوک ۱)، کوهاټ روډ پېښور، مارچ ۱۹۹۳ء، مخ ۱
[7]خان، عبدالولي خان، د لندن نه د خان عبدالولي خان خط مشموله "رهبر"، مردان، ۸جولائي ۱۹۵۷ء، مخونه ۲۷، ۲۸
[8]حنیف خلیل، علم وفن، یونیورسټي پبلشرز پېښور، ۲۰۲۲ء، مخ ۳۸۳
[9]راج ولي شاه خټک، ډاکټر، د خان عبدالولي خان شخصیت مشموله "پښتون" پنځم کال ورومبۍ ګڼه، جنوري ۲۰۱۰ء، مخ ۴۳
[10]م، ر شفق، د عبدالولي خان شګفته بیاني مشموله "پښتون" جولائي ۲۰۱۴ء، مخ ۳۰
[11]خان، عبدالولي، باچاخان او خدائي خدمتګاري (ټوک ۳)، کوهاټ روډ پېښور، مارچ ۱۹۹۸ء، مخ ۸۱
[12]حقاني، ارشاد احمد ، خان عبدالولي خان مشموله "لیکوال" جنوري ۲۰۱۷ء، مخ ۱۰
[13]ادینزے، ګل منېر، "خان عبدالولي خان او پښتو نثر" مشموله "پښتون" دولسم کال ۱۱۱ګڼه، جنوري ۲۰۱۷ء، مخ ۳۸
[14]خان، عبدالولي، باچاخان او خدائي خدمتګاري (ټوک ۳)، کوهاټ روډ پېښور، مارچ ۱۹۹۸ء، مخ ۶۶۶
[15]جهانزېب نیاز،پروفېسر، سوغات، ملت پرنټنګ پرېس لاهور، جولائي ۲۰۰۶ء، مخ ۵۳